ژباړونکی: ګل جان صابر ۲۰۲۲/۰۱/۳۱

ملګری او ورور

دا ډېر پخوا په یوه کلي کې د اوړي په موسم کې پېښ شوي دي.
د حاصل د ټولولو وخت و. حاصل ډېر ښه و، وړي د وریژو ډک او ځمکې ته را کاږه شوي وو. یو سهار چې بزګران کروندو ته راغلل ویې لیدل چې د وریژو وړي له بېخه را ایستل شوي او د وریژو کرونده تر پښو لاندې شوي ده. بزګران حیران شول او ویې ویل چې چا دومره جرأت کړی چې زموږ حاصل خراب کړي؟ چا د غلا کولو فکر کړی؟
بزګرانو چې څومره کولی شول دومره وریژې یې د ورځې راټولې کړې او خپلو، خپلو کورونو ته ولاړل.
بزګران چې بله ورځ کروندې ته راغلل ویې لیدل چې بیا هم په کروندو کې کوم څوک ګرزېدلی دي. بزګرانو پرېکړه وکړه چې غل وځاري او ښه سزا ورکړي. هغوی په نوبت پیره پیل کړه خو غل چالاکه و، په دې شپه بېخي رانغی.
بزګران خوشاله شول او ویې ویل:
- غل مو ښه ووېراوه! پرېږده پوه شي چې که چېرې زموږ وریژې تر پښو لاندې کوي موږ یې هم بې سزا ورکولو نه پرېږدو.
بزګرانو وروسته له دې په کرونده پیره کول بس کړل خو غل بیا هم راپیدا شو او د شپې لخوا یې د وریژو په غلا کولو پیل وکړ. د وریژو کرونده یو ځل بیا تر ګواښ لاندې شوه.
په دې کلي کې د تارا په نامه یو ځوان اوسېدو. تارا ډېر مهربان او زړور و. هغه هېڅا په کاراته کې نه شو ماتولی.
تارا هیله لرله چې له خلکو سره مرسته وکړي نو ځکه یې پرېکړه وکړه چې د شپې لخوا غل وځاري.
تارا یوه اوږده لکټه واخیستله او چې تیاره شوه د کروندې لوري ته روان شو. شپه بې سپوږمۍ او تپه تیاره وه. تارا په وښو کې پرېوت، ورو، ورو یې سا ایستله او دې ته انتظار و چې غل راشي. هغه ډېر انتظار و ایست، ناڅاپه یې واورېدل چې کوم څوک پټ، پټ راځي. راتلونکی لومړی لکه په ګامو چې راځي خو چې رانږدې شو پښېدو او تود باد هم ورسره را والوت.
تارا په وښو کې پروت دی، شا او خوا ګوري خو هېڅ نه ویني ځکه چې تیاره ده.
هغه غوږ ونیو او داسې ور ته ښکاره شوه چې غل په لور د وریژو وړي ریبي.
زړه ور تارا له خپل پټ خای څخه را ولاړ او د لور د غږ لوري ته ور روان شو. هغه ولیدل چې تر پښو لاندې یې کوم څوک ناست دی. تارا را تاو شو او په خپل ټول توان یې په غله د لرګي ګذار وکړ.
غله ځورونکي سا وایستله، د تارا په پښو کې را ولوېد او مړ شو.
تارا ووېرېد او ویې ژړل:
- دا څه بد کار وشو! ما خو نه غوښتل چې انسان ووژنم، دا مې په خیال کې هم نه راتلل. ما فکر کاوه چې له خلکو سره به مرسته وکړم او غل به ونیسم.
هر څومره اوښکې چې تویې کړې غل بیا نه را ژوندی کېږي. تارا سوړ اسویلی و ایست او مشر ورور ته د مشورې لپاره ورغی. هغه خپل مشر ورور ته وویل:
وروره، له ما سره مرسته وکړه. د خلکو په مخ کې ووایه چې ما نه غوښتل څوک ووژنم.
مشر ورور په هغه په غوسه شو او ویې ویل:
- اخ چې ته څومره خراب سړی یې! پخپله خطرناکو کارونو ته لاس اچوي او غواړې چې ما هم درسره ګډ کړي. ته به هغه وخت ما ته د مشورې لپاره راغلی وې چې کله دې د غله وژلو ته ملا تړله. ستا په نظر غل انسان نه دی؟ تا نه یوازې غل بلکه انسان وژلی نو ځکه ته وژونکی یې.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

تارا بېخي وارخطا شو نو ځکه يې له ورور څخه پوښتنه وکړه:
- مشره ورورہ، ستا په ما زړه نه سوځېږي؟ ستا څخه هيله کوم شاهدي ورکړې چې دا هر څه په غلطي شوي دي.
مشر ورور په غوسه شو او ويې ويل:
- شاهدي ورکړم؟ ته ليونی شوی يې که څه؟ که زه شاهدي ورکړم نو خلک به فکر وکړي چې زه هم ستا سره په دې وژنه کې شريک وم. زما له کور څخه ووزه! زما له وژونکي سره هېڅ اړيکه نه شته!
مشر ورور کشر له خپل کور څخه وشړلو. تارا روان دی او تودې اوښکې تويوي. هغه له ځان سره فکر وکړ: « زه اوس نشم خلاصېدلی، ان ورور هم له ما څخه بېزار دی. نه پوهېږم چې چېرې ولاړ شم. ښه ده چې په ډنډ کې ډوب شم».
تارا تلو، تلو تر هغو چې د خپل يوه ملګري کور ته را ورسېد. هغه له ځان سره وويل: « مخکې له دې چې ډنډ ته ځان واچوم او ډوب شم، ښه ده چې ورشم او له ملګري سره مخه ښه وکړم».
ملګري هغه ته دروازه پرانيستله او ورته ويې ويل:
- تارا، دا څه کوې، د شپې ګرزې او که کومه پېښه شوې ده؟
تارا خپل ملګري ته ټوله کيسه وکړه چې څرنګه يې غوښتل چې له خلکو سره مرسته وکړي او څرنګه په خطايي کې غل د ده له لاسه ووژل شو. د مشر ورور په برخه کې يې څه ونه ويل ځکه چې دا د شرم خبره وه.
د تارا ملګري وويل:
- بده پېښه شوې...ته غم مه خوره، زه تا په بده ورځ يوازې نه پرېږدم. زه به ټولو ته ووايم چې تا نه غوښتل هغه ووژني. که چېرې هغوی باور ونکړ نو ورته وبه وايم چې زه او ته په هغه شپه يو ځای هلته وو. د دواړو يو ځای مرګ هم دومره وېروونکی نه دی.
تارا وويل:
- ستا له مهربانه خبرو څخه مننه. زه ستا مرګ نه غواړم، هر څه چې وي زه يې پخپله ځواب وايم!
ملګري هغه ته ډاډ ورکړ او ويې ويل:
- پروا نه لري، ډېر مه خواشينی کېږه، دواړه به ژوندي وو، وګورو چې څه کېږي. ملګري خپلې خبرې داسې پسې اوږدې کړې: ښه به وي چې کروندې ته ولاړ شو او غل ووينو ځکه ته تر اوسه پورې نه پوهېږې چې څوک د وژلي دي. دا ښه نه ده چې هغه په کرونده کې پروت وي، بايد خاورو ته وسپارل شي.
تارا وويل:
- ته رښتيا وايې، راځه چې ځو.
په دې وخت کې لږ رڼا شوې هم وه. تارا او ملګری يې کروندې ته راغلل او د شولو په منځ کې يې يو تور څه وليدل. کله چې هغه ته ور نږدې شول په خپلو ځايونو وچ کلک ودرېدل، د دوی مخ ته انسان نه بلکه د ډنډ لوی مارماهي پروت و. بزګرانو د پخوا څخه هيله لرله چې دا مارماهي ونيسي. دا مارماهي د شا او خوا ډنډونو کوربه و او خلک يې له ډېرو ستونزو سره مخامخ کړي وو. د تارا ملګري وخندل او ويې ويل:
- دا يې هم ستا غل! تا دوه ځله له خلکو سره مرسته وکړه: حاصلات د له غله څخه وژغورل او همدارنګه کلي د له شرير مارماهي څخه خلاص کړل.
دواړو ملګرو لوی مارماهي را واخيست او کلي ته يې راوړ. څومره ډېره خوشالي وه! له ټولو ګاونډيو کليو څخه خلک د مارماهي د ليدلو لپاره راغلل.
خلک ټول حيران وو او ويل يې:
- دا دی د ډنډونو کوربه!
- څومره لوی دی!
- څومره وېروونکی دی!
- تارا، ستا څخه مننه چې موږ د له لوږې او شرير مارماهي څخه وژغورلو.
بزګرانو لوی مارماهي کباب کړ او ښه مېله يې پرې جوړه کړه. په دې مېله کې تارا د مېز په سر کې او څنګ ته يې ملګری ناست وو. يوازې د تارا مشر ورور مېلې ته نه و راغلی. هغه ډېر شرمنده و چې له ورور سره يې په سخت وخت کې مرسته ونکړه. مشر ورور خپل ټول د کور څيزونه ټول کړل او د تل لپاره له خپل کلي څخه ولاړ.

د جاپان د خلکو کيسه
ژباړونکی: ګل جان صابر

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ